AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۶/۱۰/۱۶

# سلام ولې نه کوې؟

د موبایل پر سکرین د **مولوي حسام الدین حسام** صیب مبارک نوم ظهور وکړ او شیبه په شیبه ترې انوار ورېدل.
اوکې مې کړ او سلام ته یې منتظر سوم؛ خو د مبارک ږغ نه راتلئ. ما ویل که کوم ماشوم سهواً، زنګ راوهلی .
خو، شیبه وروسته یې خبره شروع کړه:

سلام ولې نه کوې؟

ما ویل و ښاغلیه! اصول دا دي چې څوک زنګ وهي؛ نو لومړی سلام به هم خپله کوي.
غوسه سو: یه، هر حکم خپل موارد لري. امیان مجبور دي چې موږ ملایانو ته سلام وکړي. هغه که په ټیلفون وي او یا بل ځای.
حتا که امي ناست وي او موږ تېرېږو؛ نو بیا به هم امي سلام کوي.
ما ویل دا خبرې پرېږده؛ څنګه دي د احوال اخیستو لطف کړی؟
په غوسه یې وویل: پر تاسي مکتبیانو خو زموږ قدر نسته؛ ما ویل راځه دا هضم النفس وکړه او احوال یې واخه .
شیبه دواړه غلي وو. هغه بیا غاړه تازه کړه او په جدي انداز یې وویل:
"څه به احساس د بل د اوښکو وکړي؟
چا چې "...
ما ویل خدایه، خیر. لکه چې کوم عمومي مصیبت نازل سوی. له ویرې مې پوښتنه هم نشوه کولای.
سکوت یې مات کړ:
زما بقره له ناروغۍ کړیږي او تا کې دومره احساس نسته چې پوښتنه یې وکړې؛ د غم شریکۍ مراتب پیش کړې.
ما ویل: عجب خلک یاست؛ موږ عوام چې تاواني سو تاسو وایئ؛ دا الهي ازمېښت دی او تاته چې نوکی تاوان در پېښ سي بیا زمکه ځای نه درکوي؟
سړی غوسه شو:
ته اوس زموږ تاوان او د امیانو تاوان یو شی ګڼې؟ و دومره بې حسې؟
رښتیا چې تاسي شاعران هوایي مخلوق یاست؛ ځکه خو اپلاتون په خپل ښار کې نه پرېښودئ او الله ج هم درته تلامیذ شیطان ویلي.
ما ویل ګوره؛ تلامیذ شیطان یې هر شاعر نه دی ګڼلی؛ بلکې هغه یې ګمراه شاعران یاد کړي.
لږه شیبه غلی و. بیا یې ویل: و ګرده هوایي نړۍ کې اوسېږئ او له ځمکنیو واقعیتونو، نه یاست خبر. داسي څه وایئ چې واقعي ژوند کې ناشونې وي.
بیا یې د برهان په توګه دا بیت ووایه:

**"که بیا ژوندی شوم نو کامیاب به یمه**
**لومړی ژوندون و تجربه مې نه وه"**

کټ کټ وخندیده او بیا یې وفرمایل:

ښه، هوایي مخلوقه !


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

بیا هم په دې دنیا څوک ژوندی کېږي؟ دا خپلې ناکامۍ ته هوایي توجیه نه ده نو څه ده؟
غلی شوم، له لږ فکر وهلو وروسته مې وویل: شاعر بلکل رښتیا ویلي!
سړی غوسه شو: استغفرالله .لا حول و لا قوة...
ما ویل گوره؛ د بیا ژوندي کېدو مطلب یوازې همدا ژوند نه دی. بلکې، د واک بیا ترلاسه کول ترې هم مراد کېدای سي. لکه امیر شیر علي خان چې دوه ځلې واک ترلاسه کړ. شاه شجاع دوه ځلې پاچا شو. حامد کرزی او اشرف غني دوه ځلې واک ته ورسېدل. که دوی له لومړیو دورونو سبق اخیستی وای او لومړیتوبونه یې درک کړي وای؛ نو دویم ځل به کامیاب ول.
یو دم غوسه شو: بس، بس
دا مثالونه نور ونه غځوې؛ هماغه تېرو دورو کې لگیا اوسه!
له خدای پامانۍ وړاندې یې ټېلفون بند کړ .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ